مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سرماچار.پ
ژباړن: سیلانی

۲۰۲۶/۰۷/۱۹

**محمد داود خان:**

# د افغانستان اقتصاد د راډیکال مدرنیزېشن هڅه



**لنډیز**
په دې مقاله کې به موږ هغه اقتصادي اصلاحات وڅېړو چې د داود خان حکومت چمتو کړي و او هڅه به وکړو چې د هغو پایلې راڅرګندې کړو. څکه دقیقاً د داوود خان فعالیتونه و چې د شلمې پېړۍ په پای کې یې د هېواد د کورني انکشاف او بهرني پالیسۍ د راتلونکي مسیر ماهیت وټاکه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**د مقالې متن**
د افغانستان د معاصرو ګډوډيو او بدلونونو ريښې لرغونو زمانو ته ورګرځي؛ له همدې امله داسې نه شي کېدای چې يوازې يو مشخص عامل جلا او په ګوته شي چې له کبله يې معاصر افغانستان «ناکام دولت» يا failed stateبلل شوی وي. د افغانستان تاريخ په دې ځانګړنه پېژندل کېږي چې تل له «پرېکون» سره مخ شوی دی: د انکشاف هره دوره د شاتګ او د ټولنيز ژوند د ټولو برخو د کمزورېدو له پړاوونو سره بدله شوې ده. په عين حال کې، دا ټولې پېښې د قومي او مذهبي شخړو په بستر کې رامنځته شوې دي .

د بېلګې په توګه، که د شلمې پېړۍ د دويمې نيمايي سياسي پېښې وڅېړو، وبه وينو چې محمد داوود خان د دراني سلطنتي کورنۍ تر نسکورېدو وروسته واک ته ورسېد؛ هغه کورنۍ چې نور يې خپل تاريخي کارکردګی له لاسه ورکړې وه. ورپسې سمدستي د مدرن‌سازۍ يو د پام وړ بهير پيل شو؛ خو د دې مدرن سازۍ له چټکتيا څخه ناخوښي د دې لامل شوه چې واک د افغانستان د خلق دموکراتيک ګوند لاس ته ولوېږي. خو ډېر ژر د دې دوو دولتي پروژو پر ځای «د مدرن‌سازۍ ضد دوه پروژې» ځای پر ځای شوې.

له دويمې نړيوالې جګړې وروسته د افغانستان اقتصاد «په بشپړه توګه ويجاړ شوی و»؛ بهرنۍ سوداګري کمه شوې وه او د دولت لګښتونه د هغه له عوايدو څخه په څرګند ډول زيات و. د اقتصاد بنسټ کرنې جوړاوه؛ خو په کرنه کې د کښت او کار زاړه او ابتدايي ميتودونه واکمن و او د ځمکو د مالکانو او بزګرانو ترمنځ نيمه‌فيودالي اړيکې موجودې وې. روڼاندو او پرمختګ‌پالو کړيو له ډېر پخوا د بنسټيزو بدلونونو اړتيا درک کړې وه، او محمد داوود خاند اصلاحاتو د پلي کولو له پيل کونکو څخه و.

محمد داوود خان د افغانستان په تاريخ کې د شلمې پېړۍ له نامتو دولتي او سياسي شخصيتونو څخه دی. د هغه د سياسي کارنامې پيل 1946 کال ګڼلای شو؛ هماغه کال چې دی د شاه محمود په حکومت کې د کورنيو چارو د وزير په توګه وټاکل شو، او يو کال وروسته د ډيپلوماتيک کار لپاره پاريس ته واستول شو. په 1948 کال کې داوود خان بېرته افغانستان ته راستون شو او د ملي دفاع د وزير په توګه وټاکل شو. د شوروي ډېر ډيپلوماتان چې له داوود سره يې شخصي پېژندګلوي درلوده، په خپلو خاطرو کې ليکلي دي چې هغه «په رښتيني توګه غوښتل افغانستان مدرن کړي»، خو د خلکو د ژوند د کيفيت د ښه کولو لپاره بهرنۍ مرستې اړينې وې.

په همدې وخت کې د افغانستان په ټولنيز ژوند کې د روڼاندو استازو داسې کړۍ راڅرګندې شوې چې اندونه يې ډېرې وخت له سلطنتي واکمنۍ سره همغږي نه درلوده. په هماغه دوره کې محمد داوود خان د شاه محمود له حکومت څخه ناخوښ فعال ملي‌پال او هېوادپال شخصيتونه د ځان شاوخوا راټول کړل. دا کړۍ په تاريخ کې د «ملي پښتون کلوب» يا ملي پشتون کلوب په نوم پېژندل شوې ده .

د 1950مې لسيزې په پيل کې، د هېواد د مدرن‌سازۍ د پلوي په توګه د محمد داوود خان اعتبار او نفوذ په څرګند ډول زيات شو او د افغانستان د ټولنې ګڼو پرمختګ‌پالو شخصيتونو هغه خپل مشر باله. د هغه وخت د نوموړي د پلويانو په منځ کې يوازې هغه کسان نه ليدل کېدل چې ملي‌پاله او د پښتنو ملاتړ ته مايل نظرونه يې لرل، بلکې د چپو اندونو پلويان، لکه ن. م. ترهکی، ببرک کارمل او نور کسان هم په کې شامل و.
د شاه محمود سره د اختلافاتو په پايله کې، محمد داوود خان په 1951 کال کې استعفا ورکړه.

دا ټولې پېښې په افغانستان کې د بورژوا دموکراتيک اپوزيسيوني غورځنګ په بستر کې رامنځته کېدې. خو د ۱۹۵۳په سپتمبر کې شاه محمد ظاهر شاه د حکومت د جوړولو مأموريت داوود خان ته وسپاره. په دې پړاو کې هغه نه يوازې صدراعظم شو، بلکې د ملي دفاع د وزير دنده يې هم پر غاړه درلوده. په دې توګه د داوود خان د عملي واکمنۍ لومړۍ لسيزه پيل شوه؛ البته شاهي کورنۍ وخت ناوخت دا څرګندوله چې د داوود خان واک نامحدود نه دی، او په بېلابېلو لارو يې د هغه پر وړاندې خنډونه جوړول. داوود خان موخه درلوده چې د افغانستان سياسي مسير بدل کړي او پراخ اصلاحات پيل کړي. د داوود خان تر مشرۍ لاندې د «رهبري‌شوي اقتصاد» سياست اعلان شو. محمد داوود خان په شخصي توګه په دې برخه کې د ټولو وزارتونو فعاليتونه همغږي او کنټرولول.

د داوود خان د عملي واکمنۍ د لومړۍ لسيزې عمده ځانګړنې
د دې لسيزې اساسي ځانګړنې ښايي داسې وشمېرل شي:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

•د دولتي اداري بنسټونه له هغو ځېرو څخه جوړ شول چې «د ټولني د فعالو سياسي کړيو فضا، بدل شوي نړيوال وضعيت، او د واکمنو کړيو د ګټو په چوکاټ کې د ځينو اصلاحاتو د پلي کولو لپاره چمتووالی» يې په پام کې نيوه؛

•له 1956 څخه تر 1961 کلونو پورې اړوند لومړی پنځه کلن پلان تدوين شو؛ که څه هم دا پلان وروسته بيا وکتل شو، خو د راتلونکو اصلاحاتو لپاره په يوه محرک بدل شو؛

•د محمد داوود خان حکومت هڅه کوله چې سرمايه‌داري مناسبات پراخ کړي؛ خو په عين وخت کې يې د «رهبري‌شوي اقتصاد» سياست اعلان کړ، څو د ټولني د نږدې ټولو قشرونو ملاتړ ترلاسه کړي؛

•د پور ورکولو نظام اصلاح شو، او دې اصلاح د «منځنيو او کوچنيو متشبثينو» لپاره د پورونو د برابرولو امکان رامنځته کړ؛

•د ګډې سرمايې لرونکي بانکونه رامنځته شول چې بايد د لويو تجارتي او صنعتي شرکتونو په فعاليتونو کې برخه واخلي. په دې توګه، د اقتصاد په انکشاف کې د دولت رول پياوړی شو؛

•بهرنی پانګونه په پراخه توګه جلب شوه؛ خو د ونډو کنټرولوونکي برخې د دولت په واک کې پاتې کېدې؛

•نوي قوانين تصويب شول چې د خصوصي متشبثينو ماليات يې تنظيمول؛

•د شوروي اتحاد د بېلګې په پيروی، د هېواد د اقتصادي انکشاف پلانونه چمتو شول. که پر احصايو باور وشي، د لومړنيو دوو پنځه‌کلنو پلانونو په کلونو کې د توليد حجم څلور برابره زيات شو؛

•د تجارتي او ترانسپورتي شرکتونو ناڅاپي زياتوالي د سوداګرۍ له ودې سره مرسته وکړه؛

•د داوود خان حکومت، د اقتصادي او نظامي مرستو د ترلاسه کولو په لټه کې اړ شو چې له شوروي اتحاد او د امريکا له متحده ايالاتو څخه مرسته وغواړي.

په ټوله کې، «د هېواد په اقتصادي ژوند کې د دولتي سکتور رول» په څرګند ډول زيات شو. خو هغه سياست چې «رهبري‌شوی اقتصاد» بلل کېده، د هېواد لويې ستونزې حل نه کړې: د هېواد وضعيت لا هم ناپايدار پاتې شوی و. د محمد داوود خان ټولې هڅې چې د هېواد د څو پېړيو پر شاته‌پاتې‌والي بری ومومي، له بهرني تخنيکي او مالي ملاتړ پرته له ماتې سره مخامخ و.

په ورته وخت کې، همدغو بهرنيو مرستو هېواد په داسې يوې جغرافيې بدلو چې پر لوېديځ او شوروي اتحاد پورې تړلې وي.

د 1953 او1963 کلونو په منځ کې، نږدې په ټولو برخو کې پراخ بدلونونه رامنځته شول: «حکومت کې بيا اصلاحات راغلل، د اقتصادي انکشاف د پلانونو تدوين پيل شو، له بهرنيو مرستو څخه د پانګوني لپاره استفاده وشوه، د نورو هېوادونو متخصصان د تأسيساتو په جوړولو کې د همکارۍ لپاره راوبلل شول، او اردو پياوړې شوه.«

محمد داوود د ترانسپورتي سيستم د راتلونکي انکشاف او د معاصرې انرژۍ او کيمياوي صنعت بنسټ کېښود. په نورو برخو کې هم برياوې ترلاسه شوې: هغه مسلکي متخصصان ورو ورو راڅرګند شول چې په بهر کې يې زده‌کړې کړې وې او داسې لويې لارې جوړې شوې چې د هېواد ستر ښارونه يې يو له بل سره نښلول. د ترسره شويو جيولوجيکي کارونو په برکت، په هېواد کې د نفتو، ګازو، اوسپنې ډبرې، باريت او ډبرو سکرو استخراج پيل شو. په ټوله کې، ټولنه هم دموکراتيکه او مدرنه شوه؛ يوازې د 1958 کال هغې پرېکړې ته اشاره بسنه کوي چې ښځو ته يې اجازه ورکوله چې په ښار کې لوڅ مخ راڅرګندې شي.

د داوود خان د ناکاميو اصلي علت دا و چې هغه ونشو کولی په لنډه موده کې د سياسي نهادونو زوړ نظام اصلاح کړي، ټولنيز ژوند دموکراتيک کړي او د ټولني د زيارکښو قشرونو ژوند اسانه کړي. خو د داوود خان د حکومت تر استعفا وروسته هم وضعيت ثبات ته ونه رسېد. د خوراکي موادو اوږدمهاله بحران په هېواد کې قحطۍ ته ورسېد، د کارګرانو په منځ کې اعتصابونه زيات شول او د بزګرانو او کسبګرو د ډله‌ييزو اعتراضونو ځيني پېښې هم رامنځته شوې. پر دې سربېره، له1970 څخه تر 1972 کلونو پورې سختې وچکالۍ د هېواد اقتصاد، چې لا هم تر ډېره زراعتي و، په جدي توګه کمزوری کړ.

د 1973 کال په اوړي کې، بالاخره محمد داوود خان پرېکړه وکړه چې له رامنځته شوي وضعيت څخه ګټه واخلي، او د دولتي کودتا په پايله کې، د اردو په مرسته، واک ته ورسېد. له کودتا وروسته سمدستي په هېواد کې نظامي حالت اعلان شو. داوود خان د اګست د 23مې په راډيويي وينا کې د خپل پروګرام بنسټونه بيان کړل؛ داسې پروګرام چې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

د هېواد په اقتصادي، ټولنيز او سياسي ژوند کې د بنسټيزو بدلونونو پر پلي کولو ولاړ و. د ځمکنيو اصلاحاتو تطبيق د ټولنيز اقتصادي سياست د لومړيتوب لرونکي جهت په توګه اعلان شو.

داوود خان، وروسته له هغه چې د دولت بشپړ واکمن شو، هڅه وکړه چې د افغانستان د مدرن‌سازۍ مسير ته دوام ورکړي. د داوود خان د اهدافو بلندپروازي، له نورو مواردو سره سره، له شوروي اتحاد سره د مذاکراتو په بهير کې څرګنده شوه. د افغانستان حکومت له شوروي اتحاد څخه مرسته وغوښته، څو د ټولنيز اقتصادي انکشاف اووه‌کلن پلان عملي کړي؛ داسې پلان چې د تطبيق په جريان کې يې بايد د متالورژۍ فابريکې، د نفتو د تصفيې فابريکه، د اوبو لګولو تأسيسات او نورې لوی‌مقياس پروژې جوړې شوې وای.

يژوف، د داوود خان د پلانونو په اړه د بحث پر مهال، له ايران سره د مذاکراتو د بهير په هکله ليکي: «ايران، چې د نفتو د لوړو شويو بيو له پلور څخه يې د پام وړ عوايد ترلاسه کول، له افغانستان سره ژمنه کړې وه چې د ترانس‌افغان د اورګاډي کرښې د جوړولو لپاره، له يوې ځانګې سره د جنوب‌لوېديځ سرحد په لور، تر 1.7 ميليارده ډالرو پورې مرسته وکړي؛ دا هغه ځای و چې د اورګاډي کرښه کولای شوه د ايران د اورګاډي له شبکې سره ونښلول شي، او افغانستان به په دې توګه، د پاکستان(هغه پاکستان چې هېڅ کله دوست نه و) د خاورې له تېرېدو پرته جنوبي بحر ته لاره ومومي.

پر دې سربېره، ايرانيانو ژمنه کړې وه چې د سمنټو او نساجۍ يوه فابريکه او د هلمند سيند په لاندې برخه کې يو بند جوړ کړي، تر څو د ايران د خاورې د اوبو لګولو لپاره د اوبو جريان تنظيم شي؛ داسې اقدام چې کولای يې شول هغه شخړې پای ته ورسوي چې د اوبو پر سر تر يوې پېړۍ زياتې دوامدارې وې». د داوود خان د اقتصادي سياست اصلي پايله د ټولنيز ژوند په ټولو برخو کې د دولتي سکتور د پام وړ پراختيا وه. لاندې يوازې په دې برخه کې ځينو کليدي ګامونو ته اشاره کېږي:

» •د بهرنيو او کورنيو سرمايو قانون» بايد د دولت له خوا د خصوصي پانګونو کنټرول تأمين کړی وای؛
•د مالياتو موضوع ته ډېره پاملرنه وشوه: په لومړي ګام کې، د قانون‌جوړونې تازه بدلونونو له لويو ځمکوالو څخه د مالياتو د راټولولو زياتوالی په پام کې نيولی و؛
•هڅه وشوه چې د عامې اړتيا وړ توکو بيې ثبات ومومي؛ د فقراو کميټې رامنځته شوې چې موخه يې له احتکار او ګرانۍ سره مبارزه وه؛
•د پروګرام مهمه برخه د عامې روغتيا او معارف اصلاح وه؛ داسې چې ټول خصوصي تعليمي مؤسسات د دولت تر کنټرول لاندې راوستل کېدل؛
•يو اووه‌کلن پلان چمتو شو چې شاوخوا 200 ټولنيزې اقتصادي پروژې يې رانغاړلې. د خلکو د ژوند د کچې د لوړولو لپاره، د سترو بندونو، د اوبو برېښنا د توليد د دستګاوو، سړکونو، د اوبو لګولو د سيستمونو او د معدني زېرمو د استخراج چارې په پام کې نيول شوې وې؛
•د داوود خان حکومت، د مالي او نظامي مرستو د ترلاسه کولو په لټه کې، له امريکا متحده ايالاتو، فرانسې، ايران، سعودي عربستان او شوروي اتحاد سره همکارۍ پراخې کړې.

هغه اساسي قانون چې په 1977 کال کې تصويب شو، د پرمختګ پر لور يو مهم ګام ګڼل کېده.
د داوود خان د حکومت پر وړاندې يوه بله مهمه دنده هم پرته وه: د تخنيکي ـ اقتصادي مرستو د تأمين لپاره بايد يو متحد موندل شوی وی. خو لوېديځو هېوادونو، لکه د امريکا متحده ايالاتو او نورو، د مالي مرستو په بدل کې د سياسي تضمينونو غوښتنه کوله؛ داسې څه چې داوود خان يې قانع کولای نه شو. له همدې امله، هغه اړ شو چې د مرستې لپاره شوروي اتحاد ته مخه کړي .

له دې ټولو سره سره، حتی د بهرنيو مرستو د موندلو هڅو خپله هم د افغانستان له انکشاف سره د پام وړ مرسته وکړه: له اروپايي او آسيايي هېوادونو سره اړيکې په فعاله توګه پراخې شوې؛ غنم د امريکا له متحده ايالاتو او شوروي اتحاد څخه واردېدل او وسلې له شوروي اتحاد څخه ترلاسه کېدې. د بهرنيو پانګو په مرسته، د برېښناکوټونو، فابريکو، د اوبو لګولو سيستمونو او ترانسپورتي شبکو جوړول پيل شول. د معدني زېرمو د استخراج پيل هم يو مهم ګام ګڼل کېدی شي.

په عين حال کې، افغانستان «هڅه کوله له خپلو شريکانو څخه ډېر څه ترلاسه کړي، تر دې چې هغوی ته څه ورکړي». [5، ص. 23] له همدې امله، دا ډول شراکت په عمل کې د يو اړخيزې مرستې په يوه بڼه بدلېده. خو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

همدغه حالت د داوود خان له حکومت سره مرسته وکړه چې د ملي اقتصاد د انکشاف بنسټ کېږدي. باید ومنل شي چې له شریکانو سره دا ډول مناسبات د معاصر افغانستان لپاره هم یوه آشنا او تکرارېدونکې ځانګړنه ده. په جمعبندۍ کې باید وویل شي چې د سلطنتي نظام نسکورېدل د هغه ټولنیز اقتصادي او سیاسي وضعیت طبیعي پایله وه چې د 1970 مې لسیزې په پیل کې رامنځته شوی و.

د داوود خان پروګرام د دې وضعیت د حل لپاره مشخص اقدامات وړاندیزول. د دې دورې له بریاوو څخه بې له شکه باید د کارګرانو او زیارکښو د معاشونو زیاتوالی، د 7.5 ساعته کاري ورځې ټاکل او د کاري شرایطو ښه‌والی یاد شي. د عامې روغتیا په برخه کې د پام وړ بریاوې ترلاسه شوې، او د خلکو د بې‌سوادۍ د له منځه وړلو لپاره اقدامات ترسره شول. نوي اساسي قانون د پام وړ دموکراتیک بدلونونه په پام کې نیولي و: د جمهوري ریاست د حاکمیت تر چتر لاندې یو حزبي او پارلماني نظام ټینګېده.

مګر ناکامې پروژې هم موجودې وې. تر ټولو مهمې یې د ځمکې د مسئلې په وروستي حل کې د حکومت ناتواني، او همدارنګه د نظامي ځواکونو د کنټرول ناکامه هڅه وه. په هغه دوره کې چې محمد داوود خان د هېواد واک په لاس کې درلود، سره له دې چې په ټولنیزو او اقتصادي برخو کې د پام وړ چټک پرمختګ رامنځته شو، هغه ونه شو کړای د افغانستان د سیاسي نهادونو زوړ او فرسوده نظام په بنسټیز ډول بدل کړي.

دموکراتیکو بدلونونو هم وروسته پراختیا ونه موندله. له همدې امله د داوود خان حکومت د خلکو ملاتړ له لاسه ورکاوه او تر ټولو مهمه دا چې نور د هغه لپاره هېڅ سیاسي متحد پاتې نه و. د داوود خان حکومت په اقتصادي برخو کې د دولت د ډېرې مداخلې له امله تر نیوکو لاندې راتله.

د اقتصادي انکشاف د اصلاحاتو اووه‌کلن پلان، چې په 1976 کال کې تدوین شو، متوقعه پایلو ته ونه رسېد. پر دې سربېره، د یو حزبي دیکتاتورۍ له امله پر حکومت نیوکې زیاتې شوې. په هماغه 1976 کال کې د یوې توطئې چمتووالی پیل شو، چې بالاخره د ثور انقلاب ته ورسېد. د راتلونکو پېښو په بهیر کې د ابرقدرتونو رول هم باید کم ونه ګڼل شي. شوروي اتحاد، په داسې حال کې چې له داوود خان سره یې تودې اړیکې لرلې، په عین وخت کې یې د افغانستان له چپو ګوندونو سره له هر پلوه مرسته کوله. د داوود خان په څېر یو قاطع سیاستوال، طبیعي وه چې د دې وضعیت پر وړاندې بې‌تفاوته پاتې کېدای نه شو؛ له همدې امله، د واکمنۍ له لوري د دوی سرکوبول په یوه عادي پدیدې بدل شو.

•د شوروي اتحاد هغه سیاست چې په افغانستان کې یې د چپو ځواکونو ملاتړ کاوه او هېواد یې په جدي توګه بې‌ثباته کاوه.
د داوود خان د اصلاحاتو د ننني اهمیت په اړه باید ومنل شي چې د 1970مې لسیزې د اصلاحاتو ټول ظرفیت په پای کې تحقق ونه موند. په ټولنه کې پرمختګ‌پاله بدلونونه د جګړو له پیل وروسته خنثی شول. د بېلګې په توګه، هغه صنعتي مؤسسات چې په 1970مه لسیزه کې جوړ شوي و، تر نن ورځې پورې هم غیرفعال پاتې دي. د ډبرو سکرو، ګچ، ګاز او سربو استخراج، چې په هماغه وخت کې پیل شوی و، د ترانسپورتي زیربنا د نشتوالي له امله له ستونزو سره مخامخ دي.

د داوود خان د حکومت په پای کې، هېواد د سیمې په یوه سیاحتي مرکز بدل شوی و، او هر کال شاوخوا 100 زره سیاحانو له افغانستان څخه لیدنه کوله. خو د 20 کلونو جګړو وروسته، د اقتصاد نږدې ټولې برخې عملاً ویجاړې شوې. له همدې امله، د داوود خان تر ټولو مهمه لاسته‌راوړنه باید دا وګڼل شي چې هغه د دې هېواد ظرفیت څرګند کړ او ثابته یې کړه چې افغانستان د انکشاف او ودې وړتیا لري.

باید زیاته شي چې د داوود خان استعداد د یوه سیاستوال په توګه د «سړې جګړې» په دوره کې له رقیبو هېوادونو سره د هوښیارانه اړیکو په څرنګوالي کې څرګند شو. د دوه‌قطبي نړۍ په شرایطو کې، افغانستان د بې‌طرفۍ او نه‌انسلاک پر دریځ ولاړ و. په عین وخت کې، داوود خان د شوروي وسلو د ترلاسه کولو لپاره له شوروي اتحاد سره نسبتاً نږدې اړیکې ټینګې کړې. له شوروي اتحاد سره د نږدې اړیکو رامنځته کول، په ټوله کې، د افغانستان لپاره ګټور تمام شول: په هېواد کې د سترو صنعتي تأسیساتو او ترانسپورتي زیربناوو جوړول پیل شول.

خو لکه څنګه چې یژوف لیکلي دي: «البته په تاریخ کې شرطي حالت وجود نه لري؛ خو کله ناکله داسې ښکاري چې که شوروي اتحاد په خپل وخت له محمد داوود خان سره مرسته کړې وای، څو پر کورنیو سیاسي اختلافاتو برې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وومومي، نو دا به د هېواد لپاره  او په هر حال زموږ لپاره هم ډېر ښه وی. ښايي انکشاف به ورو روان و، خو په بدل کې به هېواد د ميليوني انساني تلفاتو او له هغه ګډوډۍ څخه خوندي پاتې شوی وی چې په دې ټولو کلونو کې دوامداري کورنۍ جګړې پرې تحميل کړه». بې له شکه، محمد داوود خان بايد د افغانستان د تاريخ له برجسته سياسي څېرو څخه وګڼل شي. خو د هېواد د مدرنسازۍ د بهير د چټکولو لپاره د هغه هڅه، چې «له پورته يا پاس نه» ترسره کېده، له ناکامۍ سره مخ وه.

**منابع**

Akimbekov S. M. Afganskij uzel i problemy bezopasnosti Central'noj Azii. - Almaty, 2003. - 402 p.Bautin A. A. Processy politicheskoj fragmentacii v Afganistane: problemy i protivorechija: Avtoref. kand. polit. nauk. - Voronezh, 2010. - 24 p.Ezhov G. P. Sardar Mohammad Daud, gosudarstvennyj dejatel' i chelovek // Ural'skij vestnik mezhdunarodnyh issledovanij, 2013. - Ed. 6. - S. 162-175.Korgun V. G. Istorija Afganistana. XX vek. - M.: IV RAN, 2004. - 508 p.Pojja S. Osnovnye aspekty novoj jekonomicheskoj politiki prem'er-ministra Afganistana Muhammad Daud-hana 1953 – 1963 gg.. // Politika i Obshhestvo, 2012. - № 1. - P. 16-26.Slinkin M. F. Liberal'naja i levojekstremistskaja oppozicija v Afganistane v 60-h – nachale 70-h gg. // Kul'tura narodov Prichernomor'ja, 2001. - №22. - P. 125-132.Toporkov V. M. Sovetsko-afganskie otnoshenija v sisteme mezhdunarodnyh svjazej SSSR do Aprel'skoj revoljucii (1978 g.) v Afganistane // Vestnik Permskogo universiteta. Istorija, 2012. - Ed. 1 (18). - P. 221-227.Shahab Abdul Gabi. Antimonarhicheskij perevorot v Afganistane i politika rezhima Dauda. ..kand. ist. nauk. - Moskva, 1994. – 21 p.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ